

Dr.Said Afghani





# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيټه : 29 سپتامبر 2022 ميلادی

## د مور غيرﻩ !

کان دشفقت مو د مور غیرﻩ ده
غیرﻩ د رحمت مو د مور غیرﻩ ده

خوږ نظر يې کم مه شه له موږ څنې
مینه محبت مو د مور غیرﻩ ده

مور ده چې د زړه دنيا ودانه ده
روح مو دی نعمت مو د مور غیرﻩ ده

موسکې شونډې ورين تندی لپه دعا
دنیا او آخرت مو د مور غیرﻩ ده

پښې يې ښکلوه که ته جنت غواړې
ملیاره برکت مو د مور غیرﻩ ده

***

عبدالحفيظ « مليار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org